مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي
۲۰۱۹/۰۷/۲۳

# روانې هلې ځلې،
# سوله که وخت ضايع کول؟!

افغان دولت هر وخت د وسله والو مخالفينو پر مخ د سولې دروازې پرانيستي دي، تل يې د هر چا منځګړيتوب ته زړه ښه کړی دی او تل يې په دغه لار کې ښکېلو غاړو ته په ځانګړي توګه پاکستان ته امتياز ورکړی دی، خو د پاکستان لخوا تل دوه مخي پاليسي پر مخ وړل شوېده. له وسله والو مخالفانو سره د افغان دولت مخامخ خبري لومړی پړاو يې د پاکستان په مرې کې ترسره شو او له هغه وروسته افغان ولسمشر بيا بيا له وسله والو طالبانو غوښتي،چې خبرو ته ورسره کېني.
دا دی اوس يو ځل بيا ولسمشر غني وويل،چې له وسله والو طالبانو د تسليمۍ ليک نه،بلکې مذاکرات غواړو؛ هغه هم باعزته او تلپاتې سوله؛ او وسله والو طالبانو ته هم په کار ده، ومني، چې دوی له هغو افغانانو سره مخامخ دي چې د سولې اراده لري.
خو له پاکستان سره د افغان دولت د تيرو اړيکو تاريخ او وسله والو طالبانو باندې د پاکستان نفوذ ته په کتو؛ شنونکي ډېر خوشبين ندي،چې وسله وال طالبان دې د افغان حکومت د سولې غږ ته مثبت ځواب ووايي،ځکه پاکستان تل افغان دولت دوکه کړی او له دې وروسته هم باور نشي پرې کيدای.
بله مهمه موضوع دا وسله وال مخالفين هم د ايډيالوژۍ له مخې په بېلابېلو ډلو ويشل شويدي.
يوه هغه ډله ده، چې د خپلې مذهبي ايډيالوژۍ له مخې له بهرنيانو سره جهاد کوي او په هيواد کې د دوی په خوښه د اسلامي نظام غوښتونکي دي. دويمه هغه ډله وسله وال دي چې د لويو استخباراتي کړيو او د ګاونډيو هيوادونو له لوري تمويلېږي خو د دوی ګټې خوندي کړي او دريمه بيا هغه ډله ده، چې د دولت او د دولت له ستراتيژيکو دوستانو څخه په يو نه يو ډول متضرر شوي دي او په مقابل کې يې وسله را اخيستې ده. د دولت د سولې غږ او غوښتنه د ستاينې وړ ده،خو پوښتنه دا ده، چې افغان دولت له کومې ډلې سره سوله کول غواړي؟
که له لومړۍ ډلې سره سوله کوي نو ناشوني ده؛ ځکه دغه ډله وسله وال؛ د خپلې مذهبي ايډيالوژۍ له مخې؛ په هيواد کې د ميشتو بهرني اتباعو په خلاف جګړه کوي. يوازينۍ غوښتنه يې هم همدا ده چې له هيواده بايد ټول بهرني پوځيان ووځي نو بيا به سولې ته غاړه کيږدي، خو د زلمي خليلزاد او طالب مرکچي پلاوي له وروستيو مذاکراتو داسې ښکاري،چې که د يوې سخت دريځې ډلې ګټې په پام کې ونيول شي نو ممکنه ده،چې د بهرنيانو له اوږدمهاله حضور سره موافقه وکړي او دا هم بايد له پامه و نه غورځول شي،چې بهرنيان له افغانستانه د بشپړ وتلو هوډ نلري، ځکه د افغانستان او سيمې له نوم سره يې اوږدمهالې ګټې تړلې دي.
که له دويمې ډلې سره سوله کوي نو دا هم ستونزمنه ده ځکه د افغانستان جګړه د افغانانو نه؛ بلکه استخباراتي جګړه ده او هغوی په جګړه کې خپلې اوږدمهالې ګټې او هدفونه لري. تر هغو چې يې هدف نه وي ترلاسه کړی نو په يو نه يوه پلمه به جګړه دوام کوي او د سولې روانې هڅې به نمايشي او د وخت ضايع کول وي.
يوازې له دريمې ډلې وسله والو سره سوله کيدلای شي. هغه هم په داسې صورت، چې په حکومت کې دننه هغه کړی چې د دې ډلې او دولت تر منځ د واټن د پيدا کيدو سبب شوي دي- يا د قانون منګولو ته وسپارل شي او يا هم د حکومت له چوکاټه بهر شي.
خو د پاکستان وروستيو هڅو،دوه مخيتوب ،پاليسۍ او نيت ته په کتو د سولې روانې خبرې به د ولس به ګټه څه پايله و نه لري؛ که پايله ور هم کړي، نو يو ځل بيا به د ډاکټر نجيب الله د حکومت د مهال سوله کيسه تکرار شي، او پاکستان به افغانستان کې تر هغې سوله او ارامي نه غواړي،چې دلته يې ګټې په پام کې نه وي نيول شوې،ځکه،چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که افغانستان ته سوله او آرامي راشي د پاکستان ټول اقتصادي پروګرامونه به له منځه لاړ شي؛ نو د سولې په اړه خبرې تيروتنه ده او ولس نور نه غواړي، چې وغوليږي .بل پلو وسله وال طالبان هم په يوه خوله نه دي.وسله وال له تېرو څو کلونو راهيسې وايي چې د سولې په اړه رښتيني دي، خو تاسي ګورئ ،چې له يوې خوا په قطر کې د ناز او نعمت دفتر لرى او د سولې خبرې پر مخ بيايي ،خو له بل لوري يې بيا خپلو بريدونو ته زور ورکړى او په حقيقت کې په خپل کار او وينا کې رښتيني نه دي.

د افغان ولس حوصله هم نوره ختمه ده؛ افغان حکومت هم ظاهراً سولې ته له پخوا ډېر لېواله دى او وايي ترهغې،چې وسله وال طالبان اوربند ونه کړي او له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر نشي، د سولې په اړه هر ډول هڅې او خبرې له شعار پرته بل څه نه دي.

که د سولې هڅې کيږي نو حکومت ته په کار ده،چې د سولې په خبرو کې له پياوړي دريځه خبرې وکړي، همدارنګه بايد وسله وال طالبان دومره تر فشار لاندې ونيسي،چې سولې ته اړه شي. له دې پرته له پاکستانه د سولې تمه لرل؛ هسې د هوا ګزول دي او د وخت له ضايع کيدو بله پايله نه لري.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ